# د پرنس ویلیم کاونټی عامه ښوونځیو د نړیوال بکلوریا (IB) پروګرام د شاملیدو پالیسی

د پرنس ویلیم کاونټی عامه ښوونځی (PWCS) ټولو زده کوونکو لپاره یو برابر او مساوی زده کړې برابرولو باندی باور لری. په PWCS کې دننه د نړیواله بکلوریا (IB) پروګرام ټول زده کوونکی د کاونټی ټولی ګټی او د ټول شموله زده کړو حقونه ترلاسه کوی. دا باور د PWCS په ویژن او د ماموریت په څرګندونو او زمونږ د ډیویژن په ځینو بنسټیزه ارزښتونو کې لیدل کیږي.

## د شمولیت فلسفه

### د PWCS ویژن

هر زده کوونکی به د اړینی پوهی، مهارتونو او د ذهنی عادتونو سره په خپل وخت سره فارغ شي کوم چی د هغوي او د هغوي د ټولني د ځلانده راتلوونکي رامینځته کولو لپاره اړین دي.

### د PWCS ماموریت

- مونږ د خپلو زده کوونکو، کورنیو او ټولني سره په ښوونه او روزنه کې د باوری شریکانو په توګه خدمت تر سره کوو.
- مونږ خپل زده کوونکی چمتو کوو تر څو انتقادی فکر لرونکی، د انټرنیت په مسؤلانه ډول کاروونکی، مبتکران او ویژن لرونکی، مقاومت لرونکی اشخاص ، او نړیوال منځګړیتوب کوونکی جوړ شي.
- د هر زده کوونکي او کارکوونکی لخوا هره ورځ د غوره والي تمی لرلو سره د ټول شموله کړنو، اقداماتو او د مساواتو داړ رامینځته کولو ته ژمن یو.

## د PWCS بنسټیزه ارزښتونه

### مساوات/برابرتیا

مونږ حځه کوو چی ټولو زده کوونکو ته یو برابر فرصتونه او ملاتړ وړاندی کړو.

### شمولیت

مونږ خپل متنوعیت د یو پیاوړتیا په توګه لمانځو او ټولو زده کوونکو ته ښه راغلاست وایو.

## په IB پروګرامونو کې د متنوعیت او شمولیت په اړه زده کول

د PWCS ماموریت، ویژن او ارزښتونه د یو برابر فرصتونه برابرولو د IB فلسفي سره په مطابقت دی. د خنډونو له منځه وړلو سره د IB په پروګرامونو کې شمولیت د ټولو لپاره د لاسرسی موندنی او ښکیلتیا زیاتولو په معنی دی.

Formatted: Left-to-right

*"په ټولو IB پروګرامونو کې، ښوونه یا تدریس... د زده کړې پر ورانديې د خنډونو د لیرې کولو لپاره ډیزاین شوی ده. ښوونه د ټولو لپاره ده او متنوعیت ته ارزښت ورکوي. دا د زده کوونکو پیژندنه تائیدوي او موخه يې دا ده چې د زده کړې داسي فرصتونه برابر کړي چي هر زده کوونکی وکولای شي خپل سم شخصي موخې وپیژني او عملي يې کړي.*

(د IB زده کړه څه شئ ده؟ 2013)

## د ټول شموله زده کړې لپاره د IB اصول

IB د ټول شموله زده کړو د لاندې ذکر شویو اصولو څخه ملاتړ کوي، چېرته چې:

- د ټولو لپاره زده کړه یو بشري حق ګڼل کیږي.
- زده کړه د مثبت او ځواب ویونکی چاپېریال په رامینځته کولو سره وده مومي کوم چې د هر زده کوونکي لپاره د خپلتیا احساس، خوندیتوب، د ځان ارزښت پیژندنه او عمومي پراختیا او وده حڅوي.
- هر ښوونکی د ټولو زده کوونکو د زده کړې مسؤلیت په غاړه لري.
- زده کړه د یوې پیاوړتیا له پلوه لیدل کیږي.
- د ټول شموله ټولنو د جوړولو لپاره د متنوعیت په اړه زده کړې ته د یوې ګټورې سرچینې په توګه ارزښت ورکول کیږي.
- ټول زده کوونکی په معیاري زده کړو کې د ګډون کولو او ښکیل کیدو په موخه یو برابر فرصتونه تجربه کوي.
- د پخوانیو معلوماتو سره د نښلول کیدو او په هغې باندې د تکیه کولو له لارې بشپړ ظرفیت ښکاره کولو ته لار پرانیستل کیږي.
- ارزونه ټولو زده کوونکو ته دا فرصت برابروي چې خپلې زده کړې نورو ته ښکاره کړي، کوم چې ستاېل کېږي او لمانځل کېږي.
- ګڼ ژبیتوب د یو حقیقت، د یو حق، او د سرچینې په توګه پیژندل کېږي.
- په ښوونځي ټولنه کې ټول زده کوونکي د IB زده کړې په پروسه کې په بشپړ ډول ګډون کوي او هغوي ته داډ ورکول کیږي چې خپل حقونه وکاروي او د نړیوال وګړو په توګه خپل مسؤلیتونه ومني.
- په ښوونځي ټولنه کې ټول زده کوونکې د غړ پورته کولو حق لري او غږ يې اوریدل کیږي ترڅو د هغوی نظرونه او مفکورې په پام کې ونیول شي.
- په ښوونځي ټولنه کې ټول زده کوونکي د IB د زده کوونکي پروفایل ځانګړتیاوې رامینځته کوي او په پلټونکو، پوه او پاملرنه کونکو ځوانانو بدلیږي کوم چې د کلتورونو ترمینځ د تفاهم او احترام له لارې د یوې ښې او سوله ایزې نړۍ په رامینځته کولو کې مرسته کوي.
- تنوعیت د یوې ټولنې د ټولو غړو په شاملولو سره پیژندل کیږي.
- ټول زده کوونکې زده کړه د بریا د یوې مهمې برخې په توګه تجربه کوي.

(د IB په پروګرامونو کې د زده کړې تنوع او شمولیت، 2016)

Formatted: Left-to-right

## د شمولیت او مساوات پر وړاندې د خنډونو لیرې کول

### موقتي ملاتړ (سکافولډینګ) او مختلف تدریسي تګلارې

په PWCS کې، ټولو زده کوونکو ته داسې لاربښوونې برابرېږي چې د هغوی د انفرادي زده کړې بنو پر بنسټ د بریا تر لاسه کولو زمینه برابره کړي. مختلفی تدریس لاری د هر زده کوونکي سره د موافقه شویو اهدافو ترلاسه کولو لپاره د خورا اغیزمنو ستراتیژیو د پیژندلو پروسې په توګه لیدل کیږي. په بیلګو کی یی لاندې ذکر شوي شامل دی:

- په ټولګیو کې دننه متحرک ګروپونه یا ډلې
- مرحله وار درسونه
- د درس څخه وړاندی د تر سره شویو ارزونو کارول
- د زده کوونکو د پیاوړتیاو او د هغو برخو په اړه د معلومات تر لاسه کولو لپاره تشخیصی یا د درس په بهیر کی ارزونی په کوم چی باید تمرکز وشی.
- د زده کړی په موخه په آزادانه ډول ښکیل کیدل
- د ګرافیکی تنظیمونکو توکو او نورو مرستندویه توکو کارول.
- د درسی توکو برابرول (د بیلګی په توګه د لوست او د ریاضی درسی مواد)
- د پراختیا او وده موندولو فعالیتونه
- د خوښې مینو
- د لوست/ریاضی آنلاین پروګرامونه چې د زده کوونکو د چمتووالي کچه معلوموولو لپاره ډیزاین شوي دي
- د بیا رغوني او بیا ارزوني له لارې په محتوا باندی د تسلط تر لاسه کولو لپاره فرصتونه

## د ملاتړ یا مرستو څو پوړیز سیستم

د پرنس ویلیم کاؤنتی عامه ښوونځي د ملاتړ څو پوړیز سیستم (MTSS) کاروي کوم چی د خپلولو وړ او ځواب ویونکی کاری چوکاټ دی چې د ښوونځیو سره د هغه زده کوونکو لپاره د موخه بیزه ملاتړ په پیژندلو او وړاندی کولو کی مرسته کوي څوک چی له اکاډمیکی او/یا د چلند له پلوه د ستونزو سره مخ دي.

تمرکز پر دی خبره دئ چې زده کوونکی له نوم او د اړتیا لرلو له مخی وپیژندل شي، په داسی حال کی چی د ټولو زده کونکو لپاره په ټولو ښوونځیو کی د توپیری لاربښوونو او اړین اکاډمیکی، چلند او ټولنیز-احساساتی هوسانی ملاتړ وړاندی کیږي. په PWCS کې، MTSS د پیاوړي او ګډی همکاری پر بنسټ جوړ شوی دی، په دې باور سره پراخه شوي چې ټول زده کوونکي کولی شي په لوړه کچه زده کړی تر سره کړي.

د انګلیسي ژبی زده کوونکو او معلولیت لرونکو زده کوونکو اکاډمیکی پرمختګ ښه کولو باندی تمرکز کولو سره، PWCS په ټولو ټولګیو او محتوی برخو کې همغږې، بیان شوي، تنظیم شوي، کلتوري او له ژبني پلوه ځواب ویونکی د لاربښووني اقدامات او د زده کړې لارې عملی کړي.

د دې پروګرام ځیني کلیدی برخو کی لاندی ذکر شوي شامل دي:

- د یو ټاکل شوي مشر سره د زده کونکو د ملاتړ ټیم (SST) تر څو د MTSS پلي کولو لاربښوونه وکړي.
- د **ټولو** زده کوونکو لپاره د ګډ مسئولیت پیژندلو رواج/کلتور
- د اکاډمیکو، چلند، او د زده کوونکو ټولنیز - احساساتي هوساینې لپاره د لوړ کیفیت لرونکی 1 ردیف/پوړ کلیدی لاربښوونه
- د موخې ټاکل او د زده کوونکو پرمختګ څارل

Formatted: Left-to-right

- په ټولو برخو کې د معلوماتو پر اساس باخبری پریکړې کول
- د ثبوت سره د شواهدو پر بنسټ د مداخلو په وخت سره تطبیقول
- د زده کوونکو د بریالیتوب څخه د ملاتړ په موخه کورنی د مستند شریکانو په توګه

## د زده کړې نړیوال ډیزاین یا تګلاره

د لاربښوونو پر وړاندی د خنډونو کمولو، د مناسبو اسانتیاوو او ملاتړی سرچینو په برابرولو سره، او د ټولو زده کوونکو څخه د لوړو تمو ساتلو په موخه، PWCS د زده کوونکو وړتیا رامینځته کولو لپاره د د زده کړې د نړیوال ډیزاین (UDL) ګټی درک کوي. د UDL چوکاټ د درې بنسټیزه اصولو پر اساس ولاړ دی: د ښکېلتیا لپاره د بیلابیلو لارو چارو ډیزاین کول، د استازیتوب لپاره د بیلابیلو لارو چارو رامینځته کول، او د اقدام پورته کولو او اظهار کولو لپاره د بیلابیلو لارو چارو رامینځته کول.

په 2021-22 ښوونیز کال کی د پیل کیدو سره، PWCS د پنځه مرحله ییزه تګلاری سره د UDL پلي کونه پیل کړه، تر څو 2025 کال پورې د ډیویژن په کچه د ستراتیژیکی پلان موخې پوره کړي. د دغه ستراتیژیکی پلان په موخو کی لاندېنی شامل دی:

- ٪100 سلنه ښوونکی به د زده کړې لپاره په یونیورسل ډیزاین پروګرام کی روزل شوي وي او کارول به یې پیل کوي.
- ٪100 سلنه د ښوونځی مشران او ښوونکی به د زده کړې لپاره د یونیورسل ډیزاین په اړه په مسلکی پراختیا یا پروګرام کې ګډون کوي.

د UDL ستراتیژیکی موخې تر لاسه کولو لپاره تګلاره.

- **لومړی مرحله**: پلټل (2021-22) - پوهاوی رامینځته کول
- **دویمه مرحله**: چمتوالی نیول (2022-23) - د ښوونکی تخصص معرفی کول او رامینتځه کول
- **دریمه مرحله**: ادغام یا یوځای کول (2023-25) - د درسی لارښوونو په تګلارو او پریکړو کی د UDL تطبیقول
- **څلورمه مرحله**: اندازه کول (2025-27) - اغیزمنه کړنلاری، پروسې او جوړښتونو پراخول او د UDL کړنلارو مسلکی پراختیا ته وده ورکول
- **پنځمه مرحله:** ګټور جوړول (2027 او له هغی وروسته) - د یو سیسټم لرونکی چاپیریال په پراخه کولو باندی تمرکز کول چې موخه یې په داسی طریقه د ښووني او روزني په کړنلاو کی ښه والی زیاتول وي چې د UDL اصول منعکس کوي او ورسره مطابقت ولري.

## د تنوع لرونکو زده کوونکو لپاره ملاتړی سرچینی

### دځانګړی زده کړو پروګرام او خدمتونه

د پرنس ویلیم کاونټي عامه ښوونځي (PWCS) ژمن دی چې د ځانګړو زده کړو زده کوونکو ته د هغوي د عمر او تعلیمی اړتیاو سره په مطابقت خدمتونو ته دوام ورکولو سره داسی فرصتونه برابر کړي چې د ښوونځي او ټولنې چاپیریال فعالیتونو ته لاسرسي او یکی ګډون کونه برابروي. په PWCS کې، معلولیت لرونکو زده کوونکو ته خدمتونه وړاندی کول د اوړدې مودې پایلو په پام کې نیولو سره ډیزاین شوی دی. په کلنی موخو کی د ادراکی/اکاډمیکی، ارتباطی، شخصی، خپلمنځی او مسلکی مهارتونو په برخو کې پراختیا یا وده په پام کې نیول کیږي. د زده کوونکی د ثانوي زده کړو وروسته

Formatted: Left-to-right

تعلیم، دندی او د خپلواک ژوند لپاره، د دې کلنی موخو او اهدافو له لارې د سرچینې ښوونکی د زده کوونکی او د هغوی د کورنی سره د پلان جوړولو په برخه کې خپل رول ته ژمن دی.

د پرنس ویلیم کاونټي ښوونځي د معلولیت لرونکو اشخاصو د تعلیم قانون (IDEA) قوانین منی او د والدینو او ښوونکو سره په ګډه د انفرادي تعلیمی پروګرامونو په اړه د معلولیت لرونکو زده کوونکو د پریکړې کولو حقونو ملاتړ کوي ځکه چې والدین خپل ماشوم په ښه توګه پیژني او مسلکي ښوونکي د تعلیمی لارو چارو په اړه ښه پوهه لري. د پرنس ویلیم کاونټي ښوونځي (PWCS) د معلولیت لرونکو زده کوونکو حقونه خوندی ساتي او داسی ښوونکي برابروي چې د تطبیق شوي درسی نصاب، د تعلیمی ستراتیژیو ډولونو، او د زده کوونکي د انفرادي تعلیمي پروګرام (IEP) لپاره مناسب اضافي درسی توکو له لارې لارښوونه کولو لپاره روزل شوي دي.

د ځانګړو زده کړو خدمتونو په اوړدو کې، د پرنس ویلیم کاونټي ښوونځي هغه زده کوونکو ته خدمتونه وړاندی کوي چې د لاندی ذکر شویو څخه یو یا زیات مشخص شوي معلولیتونه لري:

- آتیزم
- د اوریدلو نیمګړتیا
- د زده کړې اړوند ځانګړي معلولیت
- کوڼوالی
- عقلانی معلولیت
- د خبری کولو او د ژبې نیمګړتیا
- کوڼ / ړوند والی
- ګڼ معلولیتونه
- د مغزو ترومانیکی ژوبله
- وده موندلو کی ځنډ
- ارتوپیدي نیمګړتیا
- د دید یا نظر نیمګړتیا
- احساساتي معلولیت
- نوری روغتیایی نیمګړتیاوي

د دې خدماتو موخه دا ده چې د زده کونکي د ځانګړو اړتیاو سره په مطابقت اکاډمیکی ملاتړ وړاندی شي. په دغو پروګرامونو او مداخلو کی د لاندی ذکر شویو څخه ممکن یو یا زیاتی ځانګی ښکیل وي: د ښوونځي د سلا مشورو ځانګه، د ښوونځي ټولنیز کارکوونکی، د ښوونځي ارواپوهان، پازوالان یا اداره کوونکی او ښوونکي ټول په ګډه سره کار کوي ترڅو د هر زده کوونکي اړتیاوی پوره کړي.

### د ځانګړې زده کړو د لارښوونې پروګرام

د PWCS لپاره درسی نصاب د ویرجینیا د زده کړې معیارونو (SOL) او د PWCS درسی نصاب لخوا اداره شوی، په کوم کی چې داسی موخې شاملې چې د هر ټولګی او هر درسی نصاب برخی لپاره مشخص شوي دي. دا نصاب د پلان جوړونې او نظارت لپاره یوه وسیله ده او په دوامداره توګه د زده کوونکو چارې او پرمختګ ارزوي. د لوست، لیک او ریاضي لپاره د لارښوونې ځانګړي پروګرامونه د شواهدو پر بنسټ دي، زده کوونکو ته په دوامداره توګه موخه بیزه، سیستماتیک، او ښکاره لارښوونې وړاندې کوي کله چې د IEP ټیم لخوا مشخص کیږي. دا پروګرامونه د عمومي زده‌کړې د تدریسي پروګرام بشپړولو لپاره کارول کیږي او زده‌کوونکو ته د نصاب د لاسرسي لپاره بېلابېلې لارې چارې برابروي.

Formatted: Left-to-right

ښوونکي د ځانګړو زده کړو خدمات د وړاندې کولو د مختلفو انتخابونو له لارې وړاندې کوي، چې په لاندې برخو کې له لږ تر لږه محدود چاپېریال څخه تر ډېر محدود چاپېریال پورې دي:

- د عمومی زده کړی ښوونکی سره په ګډه تدریس کونه شاملولو لپاره د عمومي زده کړې له ښوونکو/کارکوونکو سره سلا مشوری کول
- د عمومی زده کړې په ټولګی کې انفرادی او د کوچنۍ ډلی ملاتړ
- د عمومی زده کړې د ټولګی څخه بهر د ټولګی څخه د ایستلو انفرادی او کوچنۍ ډله یزه خدمتونه
- د عمومی زده کړی په ښوونځی کې د وړو ګروپونو خود مختاره ټولګی
- د عمومی زده کړی ودانیو کې دننه د ځانګړې زده کړې ښوونځی
- د ځانګړی زده کړو جلا ښوونځی

## د انګلیسی زده کوونکی د لارښووني پروګرام

PWCS په هر K-12 ښوونځي کې په ملاتړی چاپېریال کې د ژبې د زده کړې پروګرامونه وړاندې کوي، تر څو د انګلیسي زده کوونکي (ELs) د انګلیسي ژبې مهارت ترلاسه کړي او د نورو زده کوونکو په څېر له ستونزمنو اکاډمیکی مضامینو او د زده کوونکو د لاسته راوړنو له معیارونو سره برابر شي. د لارښوونې برخی په لاندې ډول دی:

- په انګلیسی ژبه، ریاضیاتو، ټولنیزو علومو او د سائنس برخو کې د بریا تر لاسه کولو لپاره د انګلیسي ژبې د مهارت 1-5 کچو کې زده کوونکو ته د اکاډمیکې ژبی لارښوونه.
- د خدمت فرصتونو زیاتولو لپاره د لارښوونو وړاندی کولو ډولونه: په ګډه تدریس، نورو زده کوونکو سره یوځای کول، له ټولګی څخه به یوازی لارښوونه ، شمولیت ، او یوازې د EL ټولګی.
- د ESOL تصدیق شوی ښوونکو او د محتوا ښوونکو لخوا ملاتړ چې په بیلابیلو تخنیکونو پوه دي څوک چې د انګلیسی ژبې پراختیا/ودی په برخه کی ملاتړ کوی.

## ګڼفتېډ تعلیم او د استعداد پراختیا

په PWCS کی دګڼفتېډ پروګرام تعریف د ویرجینیا د هغو مقرراتو پر اساس دی کوم چې د ګڼفتېډ زده کوونکو لپاره د ښوونی او روزنی خدمتونه اداره کوي. هغه زده کوونکي چې د ګڼفتېډ زده کړی خدمتونو لپاره وړ پیژندل کیږي، په لوړه کچه اکاډمیکی لاسته راوړنې په ډاګه کوي یا په یو یا ډیرو ځانګړو اکاډمیکی برخو کې د ورته تجربې یا چاپېریال سره د خپل د همځولو ملګرو په پرتله زیات بی ساري یا فوق العاده اکاډمیکی وړتیاوي څرګندوي.

ګڼفتېډ زده کوونکي پرمختللي او پیچلي محتوی ته اړتیا لري کوم چې د هغوي ځیرک تجسس، د ستونزو حل کولو بی ساری وړتیاوو ، او د معلوماتو چټک لاس ته راوړلو مهارت ته ځواب ویلو لپاره برابر او ترتیب شوی وي. د ګڼفتېډ تعلیم او د استعداد پراختیا پروګرام د وړکتون څخه تر دولسم ټولګیو پوری د هغه زده کوونکو لپاره د ټولګی څخه د جلا زده کړې سرچینې خدمتونه وړاندې کوي د کومو زده کوونکو چی د زده کړې اړتیاوې د عمومي زده کړې په سیستم کې په بشپړ ډول نشي پوره کیدی. د خدماتو وخت او مکرر والی توپیر کوي او د ټولګی کچې پورې اړه لري. د ټولګی توپیری خدمات د ټولګي د ښوونکو او د ګڼفتېډ سرچینی د ښوونکي تر منځ د همغږي له لارې هم وړاندي کیږي.

ننګونکي فرصتونو ته د یو برابر لاسرسی زیاتول په PWCS کې یو ستراتیژیکی موخه ده او د ګڼفتېډ تعلیم او د استعداد پراختیا پروګرام لپاره لومړیتوب دی. په دروسته توګه د اقتصادي پلوه زیانمن شوي، اقلیت لرونکی، معلولیت لرونکي او د انګلیسي ژبې محدود مهارت لرونکي زده کوونکو د پیژندلو لپاره عملی موخه یزه ګامونو پورته کولو ته اړتیا ده. په

Formatted: Left-to-right

نړیواله کچه د ښارلو، د ښوونکو لپاره د مسلکي ودې، د ټولنې پوهاوی، او ګټه ور فرصتونو سره د وخت څخه مخکې مخامخ کیدلو په شمول ګڼ شمیر تګلارې په PWCS کې پلې کیږي تر څو خنډونه لیرې او مساوات زیات کړل شي.

په وروستي ځل د کتل کیدو نیټه مئ 2025

Formatted: Left-to-right